# شرم وحیا
## څه ته وائي

02-January-2020

هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کیدونکے
د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# شرم و حیا څه ته وائي

اَلصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چه کله جُمات ته داخل شئ، چه یاد مو وي نو د اِعتِکاف نِیَّت کوئ، تر څو چه جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کیږي. یاد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کیدلو یا پیشمني او روژه ماتي کولو، تر دے چه د آبِ زَم زَم یا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِیَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي. د اِعتِکاف نِیَّت هُم صرف خوراك څښاك یا اُوده کیدلو د پاره کول نه دي پکار بلکه چه مقصد د **الله** تعالیٰ رِضا وي. ''**فتاویٰ شامی**'' کښې دي: که څوك جُمات کښې خوراك څښاك یا اُوده کیدل غواړي نو د اِعتِکاف نِیَّت دِ اوکړي، لږ ساعت دِ ذِکْرُ الله اوکړي بیا چه څه غواړي کوي دِ (یعني بیا که غواړي نو خوراك څښاك کولے شي او اُوده کیدے شي)

## د حُضُور ﷺ په مسکي کیدلو وړکه شوي ستن پیدا شوه

**اُمُّ الْمُؤْمِنِين** حضرتِ سَیِّدَتُنا عائِشَه صِدِّیقه رَضِیَ اللہُ عَنْہَا د پیشمني په وخت کښې په

کور کښې څه ګنډل چه ناڅاپه ئې ستَن د لاسه پریوتله او دغه وخت کښې ډِیوه هم مړه شوه. په دے کښې رحمتِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کور ته را داخِل شو نو ټول کور د **حُضُورِ پُرنُور** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روښانه مخ مبارَك په نُور باندے **روښانه** شو او [په هغه رنړا کښې] **ورَکه شوي ستَن** پیدا شوه. **اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَیِّدَتُنا عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا عرض اوکړو: **یا رسُولَ الله** صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو مخ مبارك څومره روښانه دے. سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: **وَيْلٌ لِّمَنْ لَّا يَرَانِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ** یعني د هغه کس د پاره هلاکت دے څوك به چه ما د قیامت په ورځ نه شي لیدلے. **اُمُّ الْمُؤمِنِين** رَضِیَ اللهُ عَنْهَا عرض اوکړو: هغه څوك دے چه تاسو به د قیامت په ورځ نه شي لیدلے. اوئې فرمائیل: هغه بخیل دے. **اُمُّ الْمُؤمِنِين** عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا عرض اوکړو: بخیل څوك؟ ارشاد ئې اوفرمائیلو: **اَلَّذِیْ لَا یُصَلِّیْ عَلَیَّ اِذْ سَمِعَ بِاِسْمِیْ** [یعني] هغه څوك چه زما نوم واوري او په ما دُرُود شریف اُونه لولي.

(القول البدیع، الباب الثالث فی التحذیر من ترک الصلاة ۔۔۔الخ، ص۳۰۲)

علمائے کرام فرمائي چه: په هر مسلمان باندے په عُمر کښې یو ځل دُرُود شریف لوستل فرض دي او په هر مجلس کښې چه کله بیا بیا د حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم مُبارك اخستے شي یو ځل واجب دي او هر ځل (یعني چه هر ځل نوم راشي نو دُرُود شریف لوستل) مُسْتَحَب دي. (مرآة المناجیح، ۲/۹۷)

سُوزَنِ گُمشُدہ ملتی ہے تبسُّم سے ترے شام کو صُبح بناتا ہے اُجالا تیرا

(ذوقِ نعت، ص۱۶)

**مختصر وضاحت**: یعني زمونږ د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مُسکي کیدلو سره داسے نور پیدا کیږي چه د هغے په رنړا کښې ورکه شوي ستن موندلے کیږي، یعني لکه د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم [د بدن مبارك] نه وتلي نُور به د شپے تِیاره د ورځے په رنړا کښې بدلوله.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدو نه مخکښے ښه ښه نِیَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: **"نِیَّۃُ الْمُؤْمِنِ خَیْرٌ مِّنْ عَمَلِہٖ"** [یعني] د مُسلمان نِیَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[1]

**مَدَني گل**: نیك او جائز کار کښے چه څومره ښه نِیَّتونه زیات وي هغه همره به ثواب هُم زیات کیږي.

## د بیان اوریدلو نیتونه

۞ ښو ښو نِیَّتونو سره د شروع نه تر آخرے پورے بیان واورئ ۞ پوره تَوَجُّه سره د بیان اوریدلو نِیَّت اوکړئ ۞ که قلم او ډائري لرئ نو د اَهَمو نکاتو نوټ کولو نِیَّت هُم اوکړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] (معجم کبیر سھل بن سعد الساعدی...الخ، ۶/۱۸۵، حدیث ۵۹۴۲)

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** نن زمونږ د بيان موضوع ده "**شرم و حيا څه ته وائي**". **شرم و حيا** يو داسے صِفَت چه د دے نه بغير د مسلمان ژوند نيمګړے دے. دا د اِيمان د تقاضو نه يوه اهمه تقاضا ده. **شرم و حيا** د ښو صِفاتو نه يو ښه صِفَت دے. په قرآن و حديث کښې د دے اَهَمِّيَّت څنګه بيان شوے دے، زمونږ د اسلافو **شرم و حيا** څنګه وه، او د دے سره سره نورے فائده مندے خبرے به هم د نن په بيان کښے د اوريدلو سعادت حاصلوو.

اَوَّل په دے خبره ځان پوهه کړئ چه د"شرم" او "حيا" يوه معنٰی ده.

بله دا چه **شرم و حيا** څه ته وائي او د دے نه څه مراد دے؟ راځئ چه دا هم واورو: "**شرم و حيا**" هغه صِفَت ته وائي چه هغه بنده د هر هغه څيز نه منع کړي کوم چه د الله پاك او د هغه د مخلوق په نِزد ناخوښه دے. (1)

يعني هغه صِفَت کوم چه انسان د هغه کار يا هغه څيز نه بچ کړي چه هغه **الله** پاك او د هغه مخلوق نه خوښوي. دے ته **شرم و حيا** وائي.

راځئ چه اوس يو حکايت واورو د هغے نه به معلومه شي چه زمونږه اسلافو [يعني پخوانو بُزرګانو] به د خپل رب نه څنګه **شرم و حيا** لرله. کاش چه د هغوئي په برکت مونږه هم حيادار جوړ شو. الله پاك دِ مونږ ته ټول بيان د ښو ښو نيتونو او پوره تَوجُّه سره د اوريدلو سعادت رانصيب کړي. **اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ما ته دوه جنتونه راکړے شو

---

[1] ... باحيانوجوان، ص۷ ملخصا

د اَمِیْرُالْمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په زمانه کښے یو ځلمے ډیر مُتقي، پرهیزګار او عبادت ګُزار وو، تر دے چه حضرت عُمر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ هُم د هغه په عبادت باندے حیران وو. هغه ځلمے به د ماسخُتن د لمانځه ادا کولو نه پس د خپل بُوډا پلار د خِدمت د پاره تللو، په لاره کښے به یوے ښکلے زنانه هغه تنګولو او ځان طرف ته د رابللو کوشش به ئے کولو، خو هغه ځلمي به هغے ته هیڅ تَوجُّه نه ورکوله او په ښکته نظر به په هغه ځائے تیر شو. آخر یوه ورځ هغه ځلمے د شیطان په دوکه او د هغه ښځے په رابللو د بدئ په اراده د هغے طرف ته روان شو، خو چه دروازے ته ور اورسیدلو نو د **اللہ** پاك دا فرمان وریاد شو:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الَّذِیْنَ اتَّقَوْا اِذَا مَسَّهُمْ طٰٓىٕفٌ مِّنَ الشَّیْطٰنِ تَذَكَّرُوْا فَاِذَا هُمْ مُّبْصِرُوْنَ ﴿۲۰۱﴾ (پ۹،الاعراف:۲۰۱) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: بے شکه خوك چه ویره لرونکي دي چه کله هغوئي ته د کوم شیطاني خیال تکلیف رسي. هُم هغه وخت د هغوئي سترګے اوغړیږي. |

دا آیت چه څنګه وریاد شو نو په زړه ئے د **اللہ** د ویرے داسے غَلَبه اوشوه چه بیهوشه شو او په زمکه راپریوتلو. چه ډیر ساعته پورے کور ته اُو نه رسیدو نو بُوډا پلار ئے په تلاش کښې هلته را اورسیدلو او د خلقو په مدد ئے راپورته کړو او کور ته ئے یووړلو، چه په هوش کښے راغلو نو پلار ترینه د واقعے تپوس اوکړلو، هغه ځلمي پوره واقعه بیان کړه او چه کله ئے د دے آیتِ مبارکه تذکِره اوکړه نو بیا پرے د **اللہ** تعالیٰ

ويره غالِبه شوه او د خُلے نه يوه تيزه چغه اُووتله او ساه ئے اوختله. د شپے د هغه د کفن دفن انتظام اوکړے شو. سحر چه کله دا واقعه د حضرتِ عُمر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په دربار کښے وړاندے کړے شوه نو هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د هغه پلار له د تَعزِيَّت د پاره تشريف يوړلو او هغه ته ئے اُوفرمائيل چه تاسو مونږ ته اطلاع ولے نه وه راکړے؟ (چه مونږه هُم په جنازه کښے شريك شوي وے). هغه عرض اوکړو چه: اَمیرَ الْمُؤمِنِین! هغه د شپے وفات شوے وو ( او ستاسو د آرام د خيال کولو په وجه مو تاسو ته وئيل مناسب اُو نه ګڼړل). هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ اُوفرمائيل چه ما د هغه قَبْر له بوځئ. هلته چه ورغلو نو دوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ دا آيتِ مبارکه اولوستلو:

| | | |
|---|---|---|
| وَ لِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴿ۚ۴۶﴾ (پ۲۷، الرحمن:۴۶) | | مفهوم ترجَمۂ کنزالایمان: او څوك چه د خپل ربّ په حضور کښې د اودريدلو نه اويَريږي د هغه د پاره دوه جنتونه دي. |

نو د قَبْر نه هغه ځلمي په جواب کښے اُووئيل: "**یا اَمیرَ الْمُؤمِنِین! بيشکه زما ربّ ما ته دوه جَنَّتونه عطا کړي دي.**"[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

[1] ...ابن عساکر، ذکر من اسمه عمرو، عمرو بن جامع بن عمرو بن محمد...الخ، ۴۵/۴۵۰، ذمّ الهوی، الباب الثانی و الثلاثون فی فضل من ذکر ربّه فترک ذنبه، ص۱۹۱،۱۹۰

## په عبادت او رياضت كښے زړه اولګوئ!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دے ايمان تازه كوونكي حكايت كښے زمونږ د پاره ډير درس دے. ورومبئ خبره دا چه د الله پاك د نيكو بندګانو دا معمول وو چه هغوئي به د عبادت ضرروي اَحكامو زده كولو سره سره ډير ډير عبادتونه او رياضتونه كول او زيات نه زيات وخت به ئے په جمات تيرولو او داسے عبادت به ئے كولو څنګه چه د عبادت كولو حكم دے. مونږ له هم داسے عادت جوړول پكار دي. افسوس! نن صبا مونږه خپل وخت په فضول كارونو كښے بربادوو بلكه بعضې نادان خو د ګناهونو په كارونو كولو كښے خپل وخت او آخرت بربادوي خو جمات ته د حاضريدلو وخت ورسره نه وي. ☆ نن ګنړ شمير خلق په موبائل باندے سوشل ميډيا استعمالولو كښے څو څو ګينټے وخت تيروي خو جمات ته د راتلو ټائم ورسره نه وي.

اے عاشقانِ رَسُول! قرآن كريم كښے هم د جماتونو آبادولو ترغيب وركړے شوے دے. ارشادِ باري تعالٰی دے:

| | |
|---|---|
| اِنَّمَا یَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَ الْیَوْمِ الْاٰخِرِ وَ اَقَامَ الصَّلٰوةَ وَ اٰتَى الزَّكٰوةَ وَ لَمْ یَخْشَ اِلَّا اللّٰهَ فَعَسٰۤى اُولٰٓىٕكَ اَنْ یَّكُوْنُوْا مِنَ الْمُهْتَدِیْنَ ﴿۱۸﴾ | مفهوم تَرْجَمَۂ كنز الايمان: د الله جماتونه هُم هغوئي آبادوي څوك چه په الله او د قيامت په ورځ باندے ايمان راوړي او لمونځ قائم ساتي او زكوٰة وركوي او د الله نه سِوا د هيڅ چا نه نه يَريږي نو نِزدے ده چه دا |

| | | |
|---|---|---|
| (پارہ۱۰،التوبه:۱۸) | | خلق هدايت والؤ نه شي. |

راځئ چه جُمات سره د محبت کولو او دے ته د تللو راتللو د فضائلو په باره کښے دوه فرامينِ مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واورو:

﴿۱﴾ خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: چه څوك د د ذِكر او لمانځه د پاره جُمات خپل ځائے اوګرځوي نو الله پاك د هغه نه داسے خوشحاليږي څنګه چه خلق د خپل ورك شوي كس خپل كور ته په راتلو باندے خوشحاليږي. (1)

﴿۲﴾ خوږ مکّی مَدَنی آقا صَلَّی اللہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: څوك چه جُمات سره محبت كوي الله پاك هغه خپل محبوب جوړ كړي. (2)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د عبادت ګزار ځلمي کوم حکايت چه مونږ واوريدلو، د هغے نه دا خبره معلومه شوه چه قبرونو ته تلل بالكل جائز دي، ځکه اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہ د هغه ځلمي قبر ته تشريف وړے وو، او دا هم معلومه شوه چه وفات شوو خلقو کښے بعضې داسے وي چه د **الله** پاك له طرفه ورکړې شوي باندے د خپلو قبرونو نه چا سره چه اوغواړي خبرے هُم كوي. څنګه چه کله حضرت عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہ د هغه ځلمي نه تصديق اوغوښتلو چه د الله پاك

[1] ...ابن ماجه، كتاب المساجد والجماعات، باب لزوم المساجد، ۱/۴۳۸، حديث:۸۰۰

[2] ...مجمع الزوائد، كتاب الصلوة، باب لزوم المساجد، ۲/۱۳۵، حديث:۲۰۳۱

وعده ده: چه څوك د خپل **ربّ** په حُضور كښے د اودریدلو نه اویریږي د هغه د پاره دوه جَنَّتونه دي، آیا تا ته هغه جَنَّتونه نصیب شوي دي؟ نو هغه ځلمي د قبر نه جواب وركړو چه الله پاك ما ته هغه دواړه جَنَّتونه راكړي دي.

یوه بله اهمّه خبره دا معلومه شوه چه كه په بنده كښے د **شرم و حیا** جذبه بیداره وي نو د هر قِسمه ګناهونو نه بچ كیدے شي. او كه بنده كښے **شرم و حیا** نه وي نو په هغه كارونو كولو كښے چه بندګان ئے هُم ناخوښه ګنړي، بلكه هغه د **الله** پاك په نزد ناخوښه كارونو كولو كښے هُم څه شرم نه محسوسوي.

مونږه دا هُم واوریدل چه اول خو هغه ځلمے د شیطان په دوكه كښے راغے خو چه څنګه ورته د قرآنِ پاك آیت وریاد شو نو پوهه شو چه دا خو داسے كار دے چه زما خالِق و مالِك **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی پرے ناراضه كیږي نو د شرم او پښیمانتیا په وجه بے هوشه شو. او **شرم و حیا** هُم دے ته وائي چه هغه هر كار چه د الله پاك یا بندګانو په نِزد ناخوښه وي هغه پریښودے شي.

## د شرم و حیا اَهَمِّیَّت

په دے كښے شك نشته چه **شرم و حیا** یوه داسے مضبوطه قلعه ده چه دا بنده د ذِلَّت او رُسوائي د ټولو كارونو نه بچ ساتي، او چه كله څوك د **شرم و حیا** د دے قلعے نه اوځي نو هغه د بے شرمۍ او بے حیائي په كندو كښے پریوزي.

هسے خو په انسان كښے نور هُم ډیر عادتونه او صِفَتونه وي خو **شرم و حیا** یو داسے صِفَت دے چه كه د خبرو اترو د انداز، او د اناستے ولاړے نورو عادتونو نه دا

پاك صِفَت ختم شي نو نور ډير ښه صِفتونه او ښه عادتونه ئے هم ختميږي. او داسے انسان خپل اَهَمِّيَّت هُم ختم كړي او د خلقو په نظر كښے سپك شي.

ياد ساتئ! چه په ځناوروو كښے هُم ډير صفتونه موجود وي خو **شرم و حيا** صرف د انسانانو صفت دے. نو **شرم و حيا** په انسان او ځناور كښے يو بُنيادي فرق دے. نو د چا نه چه **شرم و حيا** لاړه شي نو په هغه او ځناور كښے هيڅ فرق پاتے نه شو. هُم دا وجه ده چه زمونږه دِينِ اسلام د **شرم و حيا** ډير ترغيب وركړے دے.

## د شرم و حيا په اَهَمِّيَّت باندے احاديثِ مبارَكه

راځئ چه د **شرم و حيا** د اَهَمِّيَّت متعلق يو څو احاديثِ مباركه واورو: چنانچه

خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: بے شكه حيا او ايمان يو بل سره لګيدلي دي، نو چه كله يو اوچت شي نو بل هُم اوچت كړے شي.[1]

خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: بے شكه د هر دِين يو خُلق [يعني د ټولو نه ښه خَصلت] دے او د اسلام خُلق حيا ده.[2]

خوږ مكِّي مَدَني مُصطَفىٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: بے حيائي چه په كوم څيز كښے وي هغه عيب داره كړي او حيا چه په كوم څيز كښے وي هغه ښائسته كوي.[3]

---

[1]... مستدرك، كتاب الايمان، باب اذا زنى العبد خرج منه الايمان، ١/١٧٦، حديث: ٦٦

[2]... ابن ماجه، كتاب الزهد، باب الحياء، ٤/٤٦٠، حديث: ٤١٨١

[3]... ابن ماجه، كتاب الزهد باب الحياء، ٤/٤٦١، حديث: ٤١٨٥

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب!　　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** غور اوکړئ! په اسلام کښے د **شرم و حیا** څومره اهمیت دے، نن د اسلام د دُښمنانو دا سازش دے چه په څه طریقه د مسلمانانو نه حیا ختمه کړي، ځکه چه حیا ترینه لاړه شي نو ایمان به ترینه پخپله لاړ شي.

نن زمونږ په مُعاشره کښې د بے حیائي خبرے کول، کنزلے کول، داسے تنګے جامے غوستل چه په هغے کښے د بدن لوَړه جوَړه معلومیږي، مشرانو سره په بے ادبئ خبرے کول، سندرے او سازونه اوریدل، فلمونه او ډرامے کتل، ګناهونو کښے اخته اوسیدل، د بے حیائي نه ډکے قیصے لوستل، د خپلو خپلوانو په مینځ کښے د نامحرَمو زنانؤ او نارِینؤ د یو بل نه شرعي پرده نه کول وغیره. یاد ساتئ په یو بل حدیثِ پاك کښے دي چه: **حیا د اِیمان حِصَّه ده.**[1] یعني په چا کښے چه اِیمان څومره زیات وي هغه همره به په هغه کښے **شرم و حیا** زیاته وي او د چا اِیمان چه څومره کمزورے وي د هغه **شرم و حیا** به هم هغه همره کمزوري وي.

## شرم و حیا او زمانه جاهلیت

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** که مونږه د تاریخ مطالَعه اوکړو نو مونږ ته به معلومه شي چه د خوږ نبـي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اِعلانِ نُبُوَّت نه مخکښے په زمانه جاهلیت کښے په عربو کښے بے حیائي او بے شرمي عامه وه. د نارینه او زنانه د یو بل

[1] ... مسند ابی یعلی، مسند عبد الله بن سلام، ۲۹۱/۶، حدیث: ۷۴۶۳

سره یو ځائے ناسته ولاړه، په ښکاره میدان زنانه ګډول، دا کارونه عام وو. د عربو غټو غټو شاعرانو به د زنانؤ د بیهُوده حرکتونو او اداګانو تذکِره په خپله شاعرئ کښے په فخر سره کوله. بعضے خلقو به د پلار د مرګ نه پس مَعَاذَالله د پلار د ښځے یعني میرنئ مور سره نکاح کوله. د دے نه علاوه قِسما قِسم د بے شرمئ او بے حیائۍ رسمونه په هغوئي کښے عام وو. غرض دا چه! د جاهلیت د مُعاشرے د **شرم و حیا** سره هیڅ تعلق نه وو.

## د شرم و حیا نه ډك ماحول

خو چه کله د **شرم و حیا** اعلیٰ ترینه مَرتبه لرونکي، جناب احمدِ **مُجتَبٰی**، **مُحَمَّدِ** مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنیا په خپلو نوراني تعلیماتو روښانه کولو د پاره تشریف راوړلو نو په خپل حیادار نظر ئې داسے ماحول جوړ کړو چه هر طرف ته د **شرم و حیا** رنړا خوره شوه، هغه مُعاشره چه مخکښے ئے هډو حیا پیژندله نه، په هغے کښے د **شرم و حیا** سازګار ماحول جوړ شو، هغه معاشره چه **شرم و حیا** ئے هډو خوښوله نه، بیا په معاشره کښے د حضرت عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْه په شان خلق پیدا شو چه د هغوئي په باره کښے پخپله خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: **تَسْتَحِيْ مِنْهُ الْمَلَائِكَةُ** [یعني] د عثمان (رَضِيَ اللهُ عَنْه) نه خو د آسمان فرښتے هم حیا کوي.(1)

یاالٰہی دے ہمیں بھی دولتِ شرم و حیا

---

1 . . . مسلم، کتاب فضائل الصحابة، باب من فضائل عثمان بن عفان، ص۱۰۰۴، حدیث: ۲۴۰۱

www.dawateislami.net

حضرتِ عثماں غنی باحیا کے واسطے

**یـا اِلٰهی! راکړے نِعمتِ د شـرم و حیاء**

**په خاطر د حضرتِ عُثمانِ غني با حیاء**

## ځوئ مے لاړو حیا خو مے نه ده تلې!

د هم هغه حیادار ماحول نتیجه وه چه د **حضرت اُمِّ خَلَّاد** رَضِیَ اللہُ عَنْہا ځوئ په جنګ کښے شهید شو. هغه د خپل ځوئ په باره کښے معلوماتو حاصلولو د پاره را اووتله. خو په هغه وخت کښے ئے هُم په مخ باندے نقاب [یعني پرده] اچولي وه او د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښے حاضره شوه، یو کس په حیرانتیا سره اووئیل چه تاسو په دے حالت کښے هم پرده کړي ده؟ **حضرت اُمِّ خَلَّاد** رَضِیَ اللہُ عَنْہا اووئیل چه "که زما ځوئ لاړو نوځه اوشو حیا خو مے نه ده تلې.".[1]

**صَـلُّـوْا عَـلَـی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د شرم و حیا پیکر

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** معلومه شوه چه سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خپلو منونکو کښے د **شرم و حیا** زبردست ماحول جوړکړے وو. نن زمونږه په معاشره کښے د **شرم و حیا** ختمولو کوششونه جاري دي، په چا کښے چه فطرتي طور حیا زیاته وي نو هغه ته خلق قِسما قِسم پیغورونه ورکوي، څوك وائي: دا خو د جینکو

[1] ...ابو داود، کتاب الجهاد، باب فضل قتال...الخ، ۳/۹، حدیث: ۲۴۸۸ ملتقطاً

په شان شرميږي؟ څوك ورته وائي: **څه د جينکو په شان ښکته ښکته ګورے** ☆ څوك وائي: **دا خو د جينکو نه هم زيات شرميږي.** څوك ورته وائي: مړه! **سړے جوړ شه! ښځه مه جوړيږه.** او بعضې وائي: **مړه دا خو هسے جينئ ده.**

داسے خلق دِ د دے دوه حديثونو نه درس حاصل کړي چه: ﴿۱﴾ رسُولِ کريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: حيا صِرف خير راوړي.[1]

د دے حديث نه معلومه شوه چه حيا څومره ډيره وي هغه همره به خير هُم ډير وي.

﴿۲﴾ حضرت عمران بن حَصِين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ فرمائي چه: رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بے واده، پرده ناکے جينئ نه هم زيات حيادار وو.[2]

## مونږ له څه کول پکار دي؟

اوس پخپله سوچ اوکړئ چه زمونږ خوږ آقا مکِّـی مَدَنـی مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پخپله څومره حيادار وو، ځکه مونږ له پکار دي چه حيادار کس ته د پيغورونو ورکولو په ځائے د هغه حوصله افزائي اوکړو. او په خپل کور کښے هم د **شرم و حيا** ماحول جوړولو کوشش اوکړو. ☆ که مونږ دا غواړو چه زمونږ د کور کسان حيادار شي نو پکار ده چه وړومبے مونږه پخپله **شرم و حيا** اختيار کړو. ☆ که مونږه دا غواړو چه زمونږ د کور کسان د فلمونو ډرامو او بے حيائي نه بچ شي نو پکار ده چه اوَّل مونږه پخپله د فلمونو او ډرامو او بدنګاهئ بائيکاټ اوکړو. ☆ که مونږه دا غواړو چه زمونږ

---

[1] ...مسلم، کتاب الايمان، باب بيان عدد شعب الايمان، ص۴۵، حديث:۳۷

[2] ...معجم کبير، ۲۰۶/۱۸، حديث:۵۰۸

د کور کسان د غير مَـحرَم نه پرده اوکړي نو پکار ده چه اوَّل پخپله په دے عمل اوکړو. ☆ که مونږه دا غواړو چه زمونږ د کور کسان د **شرم و حيا** خلاف جامے نه اغوندي نو پکار ده چه اوَّل مونږه پخپله د بے حيائي لباس اغوستل پريږدو. ☆ که مونږه دا غواړو چه زمونږ په کور کښے د **شرم و حيا** خلاف خبرے نه کيږي نو پکار ده چه وړومبے مونږه پخپله د بے حيائۍ خبرے کول پريږدو. ☆ که مونږه دا غواړو چه زمونږ د کور کسان خپل نظر ښکته ساتلو والا جوړ شي نو پکار ده چه وړومبے مونږه پخپله د نظر ښکته ساتلو عادت جوړ کړو. ☆ که مونږه دا غواړو چه زمونږ د کور خلق د سندرو او سازونو غږَولو او اوريدلو نه بچ شي نو پکار ده چه اوَّل مونږه پخپله د سندرو او سازونو نه نفرت اوکړو. ☆ که مونږه دا غواړو چه زمونږ د کور زنانه دِ په پارکونو، شاپنګ سينټرو او بازارونو کښے نه ګرځي نو پکار ده چه مونږ پخپله هم [فُضُول] داسے ځائيونو ته د تللو نه ځان ساتو. ☆ که مونږه دا غواړو چه زمونږ د کور کسان په ادب سره خبرے کوي نو پکار ده چه اوَّل مونږه پخپله په دے عمل اوکړو. ☆ که مونږه دا غواړو چه زمونږ د کور کسان د مخلوق نه هم **شرم و حيا** کوي او د الله پاك نه هم **شرم و حيا** کوي نو پکار ده چه اوَّل مونږه په ځان کښے دا صِفَت پيدا کړو. ځکه مونږ له پکار دي چه د داسے ماحول جوړلو کوشش اوکړو چه مونږ پخپله هُم او زمونږ د کور کسان هُم حيادار شي. اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَهۡ فرمائي: د حيا په زياتيدو کښے د ماحول او تربيت ډير عمل دخل دے. حيادار ماحول ملاويدو سره حيا نوره زياتيږي

او د بے حیا خلقو صحبت د زړه او نظر پاکیزګي ختموي او بنده بے شرمه جوړوي او بیا هغه په بیشمیره غیر اخلاقي او ناجائزه کارونو کښے اخته کیږي ځکه چه صرف حیا ده چه بنده **د بدئ او ګناهونو نه منع کوي**. چه حیا لاړه شي نو اوس به ئے د بدئ نه څوك منع کړي؟ ډیر خلق داسے وي چه د بدنامئ د ویرے نه د حیا کولو په وجه بدئ نه کوي خو چه څوك د نیك نامئ او بدنامئ پرواه نه کوي نو هغه بے حیا به هر قِسمه ګناه کوي، د اخلاقیاتو د حدونو نه به اوړي او بد اخلاقئ کښے به داسے اخته شي چه بیا به د یو غیر انساني کار نه هُم ډډه نه کوي.

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږ له پکار دي چه د شرم و حیا زیاتولو د پاره د **شرم و حیا** والا ماحول پیدا کولو کوشش اوکړو. د دے یوه طریقه دا هم ده چه په کور کښے د دیني ماحول پیدا کولو کوشش اوکړو. حکمتِ عملئ سره په کور کښے د درسِ فیضانِ سُنَّت انتظام اوکړو او کله کله کور والؤ ته د **شرم و حیا** پیدا کولو واقعات اوروو. د مَدَني انعاماتو د رسالے په آخره کښے د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه له طرفه ورکړې "په کور کښے د مَدَني ماحول جوړولو 19 مَدَني ګلونه" بهتر لار ښودونکي دي.

## په دولسو مدني کارونو کښې یو مدني کار "جُمات درس"

**اے عاشقانِ رسول!** اَلْحَمْدُ لِلّٰه دے د فساد نه ډك دَور کښے د عاشقانِ رسول د مَدَني تحریك دعوتِ اسلامي مدني ماحول د ګناهونو نه بچ کول کوي،د **شرم و حیا** درس ورکوي، او د **عِشقِ رسول** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترغیب ورکوي. تاسو هم دوئي سره

شامل شئ او د خپلو مصروفیاتو نه وخت اوباسئ او د ذِیلي حلقے په دولسو مدني کارونو کښې په اخلاص سره خپل کردار ادا کړئ او د ډیرو ثوابونو حقدار جوړ شئ. اَمیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه کم از کم دوه ګینټے د مدني کارونو د پاره د ورکولو ترغیب فرمائیلے دے. یقیناً چه څوك څومره زیات وخت ورکوي، هغه همره به د هغه د پاره د ثواب موقعے هم زیاتے وي. اِنْ شَآءَ الله

یاد ساتئ! د ذیلي حلقے په دولسو مدني کارونو کښې یو مدني کار "**چُمات درس**" هم دے. ☆ "**چُمات درس**" سره چماتونه آبادیږي. ☆ "**چُمات درس**" سره د انفرادي کوشش کولو موقع ملاویږي. ☆ "**چُمات درس**" سره د لمُونځ ګزارو شمیر زیاتیږي. ☆د "**چُمات درس**" په برکت د نیکئ د خبرو زده کولو او ښودلو موقع نصیب کیږی.

منقول دي چه **الله** پاك حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلام ته وحي اوفرمائیله: د نیکئ خبرے پخپله هم زده کړه او نورو ته ئې هم ور زده کړه، زه به د نیکئ زده کولو او ښودلو والؤ قبرونه روښانه کووم چه هغوئي ته هیڅ قِسمه ویره نه وي.[1] د بیان شوي روایت نه معلومه شوه چه ښو ښو نیتونو سره د سنتو ډك بیان کولو یا درس ورکولو او اوریدلو والؤ خو مزے شوے، اِنْ شَآءَ الله د هغوئي قبرونه به د دننه نه پړقیږي او هیڅ قِسمه ویره به نه محسوسوي. راځئ چه د ترغیب د پاره د "**چُمات درس**" یو مدني سپرلے واورو، چنانچه

یو اسلامي ورور ته لـمونځ کول هُم نه ورتلل، او نه اودس کول ورتلل، د غُسل کولو

1...شرح الصدور ، ص۱۵۸

طريقه هُم ورته هم صحيح نه وه معلومه. د هغه په ژوند کښے د نيکو سپرلے داسے راغے چه يوه ورځ د هغوئي د محلے په جمات کښے يو اسلامي ورور د فيضانِ سُنَّت نه درس ورکولو. اتفاقاً په هغه ورځ هغه هم جمات ته تلے وو، چه کله ئې د اسلامي ورور درس واوريدلو نو په زړه ئے ډير اثر اوشو، د هغے نه پس به هغه پابندئ سره جمات ته لمَانځه د پاره راتللو او په درس کښے به هُم شريك کيدلو، د جمات درس په برکت هغه د دعوتِ اسلامي هفته واره د سنتو ډکه اجتماع کښے شِرکت اوکړو هلته ئې د سُنَّتو ډك بيان واوريدلو، بيا ذِكْرُالله اوشو د هغے نه پس ژړوونکي دُعا اوشوه هغه داسے متاثره شو چه د هغے نه پس هغه پخپله پابندئ سره اجتماع کښے شرکت کول شروع کړو او خپل دوستان به ئې هم اجتماع له بوتلل، دغه رنګ د هغه اسلامي ورور ورونړو، د کور ټولو کسانو او دوستانو هم د ګناهونو نه توبه اوکړه او مدني ماحول کښې شامل شو.

صَــلُّــوْا عَــلَـى الْـحَــبِـيْــب!       صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په دے کښے شك نشته چه زمونږه معاشره کښې بے حيائي ډيره زياته شوي ده، او خلقو بے حيائۍ ته د فيشن نوم ورکړے دے د ميډيا په ذريعه يو يو کور ته د بے حيائي پيغام رسيدلے دے، نن غيرمسلمه زمونږ **شرم و حيا** ختمولو پسے شوي دي. هم دا وجه ده چه نن د مسلمانانو په مُعاشره کښے بے حيائي عامه شوي ده. نن د سيل تفريح په مقاماتو کښے د بے حيائۍ نظارے عامے دي او دا ورځ په ورځ زياتيږي. نن د زنانؤ يو شمير دے چه د **شرم و حيا** حقيقي څادر ئې

کور کښے پریښودے وي او په بازارونو کښے بے پرده ګرځي او بے حیائي عاموي، او هغه خلق چه په سترګو کښے ئے **شرم و حیا** نه وي هغوئي داسے زنانؤ ته په رټو رټو سترګو ګوري. هُم دغسے **مخکښے** خو به د فلمونو ډرامو د بے حیائۍ نظارے صرف په ټي وي او سینما ګانو کښے ښودلے شوے، خو نن د موبائل سهولت د بے حیائۍ دا دروازه ډیره زیاته فراخه کړي ده. نن داسے وخت راغلے دے چه غیر نارینه او زنانه یو بل سره ډیر آزادانه انداز کښې خبرے اترے کوي، نن نامَحرَمه نارینه د نامَحرَمه زنانه سره ملاقات کوي او یو بل سره لاس ملاووي او بے شرمۍ سره یو بل ته خاندي او مُسکي کیږي، نن شرعي پرده د تیر شوي وخت رواج ګنړلے کیږي دغسے [په یو دفتر، کور وغیره کښے بعضے وخت داسے صُورت جوړ شي چه په هغے کښے صرف یو غیر نارینه او یوه زنانه پاتے شي حالانکه دا سخت حرام دي. [ځکه چه د لیور او ورندار په خپل مینځ کښې پرده ده، دغسے د تره ځوئ، د ماما ځوئ او د ترور د ځوئ نه هُم پرده ده، د خیني او اَوخي په خپل مینځ کښے پرده ده، د چاچي او د لیور د ځوئ او د مامي او د خاوند د خوریا په خپل مینځ کښے پرده ده او دغسے د ټولو نامَحرَمو په خپل مینځ کښې د یو بل نه شرعي پرده کول فرض دي. د چا او چا د یو بل نه پرده ده، د دے د پاره د امیرِ اَهلِسُنَّت **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رِساله ''زخمي سانپ'' اولوَلئ، د دے رسالے په پښتو کښې هُم د ''**زخمي مار**'' په نوم ترجَمه شي ده، او دا تاسو د **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** نه طلب کولو سره سره د **دعوتِ اسلامي** په ویب سائټ **www.dawateislami.net** باندے هُم لوستلے او **Download** کولے شئ.]. نن مسلمانه زنانه میك اَپ اوکړي ښکلے جامے واغوندي او په دے

حالت کښے بے پرده بهَر وتلو کښے فخر محسوسوي.

## د کویژدن نه پس د هلك او جینئ په خپل مینځ کښے ملاقاتونه

الغرض! حالات ورځ په ورځ خرابیږي، د دے بنیادي سبب د علمِ دِین نه لري والے هم دے. د علمِ دین نه د لري والي او د جهالت دا نتیجه ده چه بد قِسمتئ سره په دے معاشره کښے د کویژدن نه پس د هلك او جینئ نه د یو بل لیدلو، یو بل سره د خبرو اترو کولو او یو بل سره د میلاویدلو او یواځے د چکرو وهلو په معامله کښے پابندئ ختمے کړے شي. حالانکه دا ناجائزه او حرام او جَهَنَّم ته بوتلونکي کارونه دي. ځکه د کویژدن نه پس هم چه ترڅو پورے ئے نکاح نه وي شوے هلك او جینئ د یو بل د پاره بالکل هغسے نامَحرَمه دي څنګه چه د کویژدن نه مخکښے وو. صرف د نکاح کیدلو نه پس د دواړو د پاره د یو بل سره ملاقات کول او خبرے کول جائز شي، ترڅو ئے چه نکاح نه وي شوے دا دواړه ښځه او خاوند نه دي، او نه د دوئي مور و پلار د یو بل سخر او خواښے دي. د کویژدن نه پس به دوئي د یو بل نه هُم پرده کوي او د یو بل د مور و پلار نه به هم د شرعي پردے لحاظ ساتي.

یاد ساتئ! څوك چه خپلے سترګے د حرامو نه ډکوي، **اللّٰه** پاك به په ورځ د قیامت د هغه سترګه د جَهنَّم د اور نه ډکه کړي. (مُکاشَفَۃُالْقُلُوب، ص۱۰)

څوك چه نامحرمو ته دُنیا کښے ګوري، صبا د قیامت په ورځ به د هغه په سترګه کښے د جَهنَّم [د اور] سلائي وهلے کیږي. (بَحرُ الدُّمُوع، ص۱۷۱)

څوك چه په دُنیا کښے فلمونه او ډرامے ګوري داسے ده لکه هغه چه ځان د جَهنَّم

اور ته د نیولو جُرأت کوي.

ځوك چه د شریعت د اَحکامو پرواه نه کوي، په ورځ د قیامت هغوئي په غټو غټو مصیبتونو کښے اخته کیدے شي.

## غیر مَحرَم سره د تنهائي مُمَانَعَت

زمونږه خوږ نبـي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: ځوك چه په **اللّٰه** او د آخرت په ورځ ایمان لري هغه دِ هیڅ کله د داسے غیر مَحرَمه زنانه سره خلوت [یعني تنهائي، یعني یواځے کیدل] نه اختیاروي چه د هغے سره د هغے مَحرم نه وي ځکه چه په داسے صورت کښے د هغوئي په مینځ کښے دریم شیطان وي.[1]

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** په ځان کښے د حیا پیدا کولو یوه طریقه دا هم ده چه مونږه د بزرګانو د **شرم و حیا** واقعات واورو او په هغے د عمل جذبه پیدا کړو.

زمونږ د بُزرګانو **شرم و حیا** څنګه وه، راځئ چه د هغے یو څو واقعات واورو:

## د حضرت عثمان رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ شرم و حیا

چنانچه حضرت حسن رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د **اَمِیرُ الْمُؤمِنِین** حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ د **شرم و حیا** په باره کښے فرمائي چه هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ به دومره زیاته حیا کوله چه که په یوه

[1] ... مسند امام احمد، مسند جابر بن عبد اللّٰہ، ۵/۱۰۱، حدیث: ۱۴۶۵۷

کوټه کښے به يواځے وو او دروازه به هم بند وه، نو بيا به هُم هغوئي د لامبلو په وخت کښے جامے نه ويستلے او د حيا په وجه به ئې ملا نه نيغوله.(1)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د دے نه مونږ ته درس حاصلول پکار دي او په ځان کښے د **شرم و حيا** ماده پيدا کولو کوشش کول پکار دي. ځکه چه زمونږه حال ډير بد دے، [ځکه چه په دريابونو او نهرونو، ډنډونو او سوئمنګ پولونو کښے نن صبا خلق په يو مختصر جانګي کښے د ټولو په مخکښې لامبي، حالانکه د نامه د لاندے نه واخله د زنګونانو د لاندے پورے د نارينه د پاره پټول فرض دي، داسے پيرړه کپړه کښے چه د بدن رنګ پکښې نه ځليږي او د خلقو مخکښې لامبلو کښے خو داسے پيرړه کپړه اِستعمالول پکار دي چه په بدن پورے داسے نه نښلي چه د پردے د کوم يو اندام پوره هيئَت [يعني لوَړه جوَره] پکښې معلوميږي حالانکه که د ځرمنے رنګ پکښې نه ځليږي، او هُم دا حکم د لامبلو نه بغير هُم دے. او فرض پرده نه کول حرام او جَهنَّم ته بوتلونکے کار دے.]

راځئ چه د **شرم و حيا** يوه بله واقعه واورو:

## د سترګو نه خوږه د الله رضا

د خپلے زمانے مشهور ولي حضرت يونس بن يوسف رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ځلمے وو، اکثر وخت به ئے په جمات کښے تيرولو، يو ځل د جمات نه کور ته را روان وو چه ناڅاپه ئے په يوه

---

1 ... مسند امام احمد، مسند عثمان بن عفان، ۱/۱۶۰، حديث: ۵۴۳

زنانه نظر پریوتلو او زړه ئے د هغے طرف ته مائل شو خو فوراً شرمنده شولو او توبه ئے اوکړه او د الله پاك په بارګاه کښے ئې داسے دُعا اوکړه: ”اے پروردګار! سترګے اګرچه ډیر لوئي نعمت دے، خو زه نوره خطره محسوسووم چه چرے دا زما د هلاکت سبب جوړے نه شي، او زه د دے په وجه په عذاب کښے اخته نه شم، اے زما مالکه! ته زما د سترګو بینائي واخلے، چنانچه د هغوئي دُعا قبوله شوه او نابینا شو.“[1]

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د الله پاك د ولي حضرت یونس بن یوسف رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡه دا انداز، دومره اعلٰی سوچ، دا بس د هغوئي حِصَّه وه.

بهر حال مونږ له خپلے سترګے د هر هٰغه کار نه بچ کول پکار دي چه هغه د **شرم و حیا** خلاف وي. خاص طور که په استقبالیه ناسته زنانه د بدنګاهئ دعوت ورکوي یا په لاره کښے چرته مخے له درشي نو د خپل نظر حفاظت کوئ داسے زنانه ته په بد نِیَّت کتل د انسان نه، بلکه د شیطان کار دے. د حضرت عبدُالله بن مسعود رَضِیَ اللہُ عَنۡه نه روایت دے چه خوږ حبیب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: ”زنانه ټوله عورت (یعني د پټولو څیز) دے، چه کله کومه یوه زنانه بهر ته اُوځي نو شیطان په هغے پسے بیا بیا سر راښکاره کوي او ورته ګوري.“[2] او په یو بل حدیث کښے دا هم نقل کړے شوي دي: څوك چه په شهوت (یعني ګنده خوند) باندے د یوے نا مَحرَمه زنانه ښائست او ښکلا

---

1 ... عیون الحکایات، الحکایة السابعة والاربعون بعد المائة، ١٦٥ملخصاً

2 ... ترمذی، کتاب الرضاع، باب:١٨، ٢/٣٩٢، حدیث:١١٧٦

ته اوګوري، د قيامت په ورځ به د هغه په سترګو کښے ويلي کړے شوي سيکه اچولے کيږي.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د خپلو اسلافو د **شرم و حيا** واقعات اوريدل، راځئ چه يوه بله واقعه واورو:

## د حضرت عُمر بِن عبدُالعزيز حيا

د يو بُزرګ بيان دے چه حضرت عُمر بن عبدُ العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به په ډير احتياط خبرے کولے، يو ځل د هغوئي په تَرخ کښے دانه را اوختله، مونږه د هغے په باره کښے د هغوئي تپوس له ورغلو چه څه وائي؟ مونږ ترينه تپوس اوکړو چه په کوم ځائے [مو دانه] راختلي وه؟ هغوئي اُوفرمائيل: د مټ په دننه حصه کښے.[2]

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** په دے روايت کښے زمونږ د پاره د عبرت ډير مدني ګلونه دي: ☆ د حضرت عُمر بن عبدُالعزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **شرم و حيا** داسے وه چه هغوئي به د تَرخ د نُوم اخستلو نه هُم حيا کوله. او نن صبا ډير خلق دي چه په خبرو خبرو کښے ډيرے بے حيا او ګنده جُملے استعمالوي او هيڅ احساس هُم نه لري. ☆ د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد مبارك دے: اَلْجَنَّةُ حَرَامٌ عَلٰى كُلِّ فَاحِشٍ اَنْ يَّدْخُلَهَا [يعني] هر فحش خبرے

1...هِدايه، كتاب الكراهية، فصل فى الوطء والنظر والمس، ۴/۳۶۸

2...احياء العلوم، كتاب آفات اللسان، الآفة السابعة الفحش ـ ـ ـ الخ، ۳/۱۵۱

کولو والؤ باندے جنت ته داخليدل حرام دي.[1] ☆ حضرت ابراهيم بن مَيسَره رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: منقول دي چه فُحش ګوئي کوونکے او قصداً فُحش خبرے کوونکے به په ورځ د قيامت د سپي په صورت کښے راوستلے کيږي يا د سپي په خيټه کښے به راوړلے کيږي.[2]

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د فُحش [يعني ګنده] خبرو سره سره نورو ګناهونو نه هم بچ کيدلو او د **شرم و حيا** سره سره نور نيك عادتونه پيدا کولو د پاره د دعوتِ اسلامي مدني ماحول کښے شامل شئ.

## د جانشينِ عَطّار د ايپ تعارُف

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** **اَلۡحَمۡدُلِلّٰه** دعوتِ اسلامي ټوله دُنيا کښے د دِين پيغام عام کولو کښے مصروفِ عمل دے. په دے جديد دَور کښے د تبليغِ دِين د پاره جديد ذرائع هُم استعماليږي. په دے سلسله کښے د جانشينِ اميرِ اَهلِسُنَّت حضرت مولانا عُبَيد رضا عَطّاري مَدَني دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه په نوم باندے يو ايپليکيشن جوړ کړے شوے دے، چه د هغے نوم دے "**الحاج عُبَيد رضا عَطّاري (Al Haaj Ubaid Raza Attari)**

په دے کښے د جانشينِ اميرِ اَهلِسُنَّت بيانات، شارټ کلِپ، مختلف مصروفيات، مَدَني چينل ريډيو، د کلِپ وغيره ډاؤن لوډِنګ او د سَرچ سهولت موجود دے. زر تر زره ضرور په خپل موبائل کښے دا اَيپ انسټال کړئ او د دے نه اِستِفاده اوکړئ.

---

[1] ...موسوعة ابن ابي الدنيا، کتاب الصمت، ۷/ ۲۰۴، حديث: ۳۲۵

[2] ...احياء العلوم، کتاب آفات اللسان، الباب الثاني، الآفة السابعة...الخ، ۱۵۱/۱

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!		صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بیان په آخره کښې د سُنَّتو فضیلت او یو څو سُنَّتونه او آداب د بیانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاہِ نُبُوَّت** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چه زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چه زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي." (ابنِ عساکر ج۹ ص۳۴۳)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا		جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

**سِینه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدینه خوږه آقا		جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا**

## د ناستے یو څو سنتونه او آداب

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چه د ناستے یو څو سنتونه او آداب واورو: ☆ سُرِین په زمکه لګوئ او دواړه زنګونان اودروئ او دواړه لاسونه ترینه چاپیره کوئ او په یو لاس بل لاس نیسئ، داسے کښیناستل سُنَّت دي.(خو په دے دوران کښے زنګونان په څادر وغیره پټول مناسب دي) (مِراٰۃُالمناجیح ج٦. ص٣٧٨) ☆ پرلت وهل هم د نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه ثابت دي. ☆ کوم ځائ کښے چه څه لمر او څه سورے وي هلته مه کښینئ. د حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو هُرَیره رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوایت دے چه **خوږ نبی** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: "چه کله په تاسو کښے څوك په سوري کښے وي او د هغه نه سورے رُخصت شي او هغه په څه لمر او څه

سوري کښے پاتے شي نو هغه له پکار دي چه د هغه ځائے نه پاڅي.'' (سُنَنُ اَبی داؤد، کتاب الادب باب فِی الجلوس بین الظل والشمس، الحدیث:٤٨٢١، ج٤، ص٢٤٤) ☆ **مخ په قبله کښینئ.** (رَسائلِ عطّارِیّه، حصّه٢، ص٢٢٩) ☆ اعلٰی حضرت، امامِ اهلسنت، شاه احمد رضا خان رَحْمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیْه لیکي: د پیر و اُستاذ په نشست [یعني د ناستے په ځائے] باندے د هغوئي په غیر موجودګئ کښے هم مه کښینئ. (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه، ج٢٤، ص٣٦٩، ٤٢٤) ☆ چه کله اجتماع یا مجلس ته لاړ شئ نو د مخکښے تللو د پاره په **خلقو د پاسه مه اوړئ** چرته چه ځائے وي هلته کښینئ. ☆ **چه کله کښینئ نو پیزار اُوباسئ** ستاسو ښپے به آرام مومي. (اَلجامِعُ الصَّغِیر، الحدیث٥٥٤، ص٤٠)☆ د **مجلس** نه چه فارِغ شئ او دا دُعا درے ځله اولَولئ نو ګناهونه به مو معاف شي. او کوم مسلمان ئې چه **مجلِسِ** خیر او **مجلِسِ** ذکر کښے اولولي نو د هغه د پاره به په هغه خیر مهر اولګولے شي. هغه دُعا دا ده: ''سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَیْكَ'' تَرجَمه: ستا ذات پاك دے او اے الله! هُم تا لره دي ټول صِفتونه، ستا نه سوا هیڅ څوك د عبادت لائق نشته، ستا نه بخښنه غواړم او ستا طرف ته توبه کووم. (سُنَنُ اَبی داؤد، کتاب الادب، باب فِی کفارۃ المجلس، الحدیث:٤٨٥٧، ج٤، ص٣٤٧) ☆ چه کله یو عالِم باعمل یا مُتَّقي کس یا سیِّد صاحب یا مور و پلار راشي نو **تعظیماً** [یعني ادباً] **اودریدل ثواب دے.** ☆**حَکِیمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیْه لیکي: د بزرګانو په راتلو دا دواړه

کارونه يعني تعظيمي قيام او استقبال جائز بلکه سُنَّتِ صحابه دے بلکه د حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّتِ قولي دي. (مِراٰةُ المناجيح ج٦، ص٣٧٠)

اے زمونږه خوږه **الله** عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته د ناستے ولاړے په سُنَّتو او آدابو د عمل کولو توفيق راکړے. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د **مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** دوه کتابونه (۱) د ۳۱۲ صفحو کتاب "بهارِشريعت" حصّه ۱٦ او (۲) د ۱۲۰ صفحو کتاب "**سُنّتیں اور آداب**" هديه کړئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د **مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** دوه کتابونه (۱) د ۳۱۲ صفحو کتاب "بهارِشريعت" حصّه ۱٦ او (۲) د ۱۲۰ صفحو کتاب "**سُنّتیں اور آداب**" هديه کړئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د راروانے هفته وارے اجتماع د بيان جهلکيانے

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د راروانے هفته وارے سُنَّتو ډکے اِجتِماع موضوع به وي "**د جَنَّت قِيمت**" په دے بيان کښے به مونږه اورو چه جَنَّتي **محلّات** به چا ته ورکولے کيږي؟ د صُلحے باره آيت او فرامِينِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، د جَنَّت بيان، او د

نیکۍ د دعوت ورکولو فائدے به اورو، جَنَّت ته څوك څوك تلے شي، په دے باره کښے به هُم یو څو مَدَنـي ګُلونه وړاندے کیږي.

لِـهٰذا د **اللّٰه** تعالٰی د رضا د پاره راروان زیارت له هُم اجتماع کښې د حاضرۍ نِیَّت اوکړۍ او د انفرادی کوشش کولو او نور اسلامی ورونړه ځان سره د راوستلو نِیَّت هُم اوکړۍ. لاس اوچت کړۍ او په زوره اُووائي. اِنْ شَآءَاللّٰه

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښے لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانے

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چه څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښے د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښے د داخلیدو وخت کښے هُم، تر دے چه سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښے د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندے کوزوي.[1] راځۍ چه مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

---

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دے چه تاجدارِمدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښے او كه ناست وو نو اودريدو نه مخكښے به د هغه ګناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چه مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چه دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

حضرت اَحمَد صاوِى رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندے د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چه دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

### اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰى لَهٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ په مینځ کښے کښینولو، دے باندے صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُم حیران شو چه دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتے مرتبے والا] دے! چه کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چه کله په ما باندے دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئے لوَلي.[1] راځئ چه مونږه ئے هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

### اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چه داسے دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چه دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکئ:

### جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوایت دے چه سرکارِ مدینه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

2...الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حدیث:۳۰

فرمائیلي دي: د دے د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورے نیکئ لیکي.[1] راځئ چه مونږه ئے هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾ داسے ده لکه شبِ قدر ئے چه حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه دا دُعا درے ځله اولوستله نو لکه هغه چه شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چه مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د خُدائے حَلیم وکریم نه سِوا هیڅ څوك د عِبادت لائِق نشته، الله پاک دے چه د ووه واړو آسمانونو او د عرشِ عظِیم پروردګار دے)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة...الخ، ۲۵۴/۱۰، حدیث:۱۷۳۰۵

2... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۵۵/۱۹، حدیث:۴۴۱۵